## د افغان میرمنو د دوستو سفیرانو ګروپ
## د رسنیو د ازادۍ د نړیوالې ورځې بیانیه

سږکال د رسنیو د ازادۍ پر نړیوالې ورځ ، موږ  په رسمیت پېژنو چې د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې پربنسټ هرتن د بیان او نظر د ازادۍ حق لري. په دغه حق کې له لاسوهنې پرته د نظر ورکول او له کومې لاسوهنې پرته د هرې رسنۍ له لارې د معلوماتو او نظرونو د غوښتلو، ترلاسه کولو او خپرولو ازادي شامله ده .دا ازادي د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ۱۹ ماده کې هم راغلې ده.

موږ د طالبانو په واکمنۍ کې د خبریالانو او رسنیزو ادارو د حقونو له منځه تلل محکوموو.  موږ په ځانګړې توګه هغه خنډونه یادوو چې ښځینه خبریالانې په افغانستان کې ورسره مخامخ دي.

د رسنیو ازادي د ټولو ټولنو لپاره مهمه ده.  د خبریالانو او رسنیو ازادي د روڼتیا او حساب ورکونې په یقیني کولو کې مرسته کوي. ددې لپاره چې افغانستان خپله بشپړه ورتیا ترلاسه کړي نو د آزادو رسنیو په خواکې یوې ټولشموله ټولنې ته اړتیا لري. .

دا اړینه ده چې افغان خبریالان او رسنیزې ادارې د تهدید، تاوتریخوالي او د خپل سري توقیفونو له ویرې پرته خپلې دندې ترسره کړي. موږ د هغو زړورو افغان ژورنالیستانو ستاینه کوو چې له ګواښونو سره سره د افغانستان له خلکو او نورې نړۍ سره ددغه هیواد له دننه د خبرونو شریکولو ته دوام ورکوي.

دغه بیانیه د افغان میرمنو د دوستو سفیرانو د ګروپ د لاندې غړو لخوا خپرېږي: استرالیا، ډنمارک، کاناډا، اروپايي ټولنه، هالنډ، بریتانیه، افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) او د امریکا متحده ایالات.